DAILY
اراده
دافغان نشراتي مرکزملي خپلواکه ورځپانه

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۱۲۱
شماره مسلسل ۹۸۸
یکشنبه ۱۷ ثور ۱۳۸۵ هـ.ش
۸ ربیع الثانی ۱۴۲۷ هـ ق
7 May, 2006

PROPERTY OF AMRC
AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

در ولسی جرګه:

اختلاف نظر برسر تصویب بودجه سال جاری



بودجه امسال که از سوی وزارت مالیه بمنظور تصویب به ولسی جرگه ارایه شده است غیر عادلانه و خلاف قانون اساسی کشور است این مطلب را رمضان بشر دوست یکی از نماینده گان ولسی جرگه دیروز در یک نشست خبری ابراز نمود. وی در این زمینه نمونه های رانیز بر شمرد، اما رئیس کمیسیون مالی و بودجه ولسی جرگه درین باره نظر دیگر دارد.

رمضان بشردوست میگوید که معامله گری ها میان حکومت و پارلمان در باره به تصویب رساندن بودجه در حال شکل گرفتن است.

وی میگوید که عدم توجه به حقوق ناچیز کارمندان پایین رتبه معلولین و باز نشسته گان خصلت غیر عادلانه بودن بودجه را نشان میدهد.

آقای بشر دوست میگوید که کاهش در میزان حقوق، ماهوار کارمندان بلند پایه دولتی ونماینده گان پارلمان، افزایش مالیات بر معاشات، صرفه جویی و کاهش کارمندان اضافی در تشکیلات لغو ادارات غیر موثر ووضع مالیات بر شرکت ها و کار گران خارجی از راه های است که وزارت مالیه با تکیه بر این راه ها میتواند افزایش معاشات پایین رتبه راتمویل کند. آقای خاخی نیز این موضوع راتائید میکند

یک سارق کشته و سه تن دیگر دستگیر گردید



در یک درگیری میان مردان مسلح و نیروهای پولیس ننگرهار یک تن ازین مردان مسلح کشته و سه تن دیگر آنان بازداشت شدند.

عبدالغفور مسوول اداره مطبوعات قوماندانی امنیه ولایت ننگرهار میگوید که این رویداد دیشب هنگامی در ولسوالی سرخرود این ولایت رخ داد که شماری از مردان مسلح میخواستند اموال خانه یک تن از باشنده گان این ولسوالی را دزدی نمایند.

وی افزود که از نزد دزدان دستگیر شده مقدار سلاح نیز بدست آمده است.

بر بنیاد یک خبر دیگر دیشب یک پایگاه نیروهای مرزی لوای زون شرق در ساحات ولسوالی پچیر و اگام ولایت ننگرهار مورد حمله نیروهای مخالف دولت قرار گرفته است.

محمد ابرار مراد معاون این لوا میگوید که درین رویداد حمله کننده گان با مقاومت شدید روبرو شده و فرار نمودند که در نتیجه دو تن از سربازان زخم سطحی برداشتند و از نشانه های باقیمانده معلوم میگردد که شماری از حمله کننده گان زخمی ویاکشته شده ند.

یک پولیس زخم برداشت

در نتیجه درگیری دیشب میان مخالفان دولت و پولیس ملی که در ولایت کندهار رخ داد یکتن از نیروهای پولیس ملی زخمی شده است ص۴

بک هلی کوپتر نظامی امریکا در کشور سقوط کرد

اردوی امریکا می گوید تمامی ۱۰ سرنشین یک هلی کوپتر شینوک این کشور که هنگام انجام عملیات در شرق کشور سقوط کرده بود، کشته شده اند ص۴

په یوه کمین کې څلور مخالف جنګیالی ووژل شول

تیره شپه د زابل ولایت دجلدک په ولسوالی کی دکابل - قندهار په لوبه لاره دولتی ځواکونو مخالف جنګیالی په یوه کمین کی راګیر او څلورتنه یی ووژل.

په کندهار کې د ۲۰۵ نمبر اتل قول اردو قوماندان رحمت الله رؤفی ۴مخ

دمحمداغی په ولسوالی کې دمخالفینو برید

د لوګر ولایت دمحمد اغی کی کومه مرګ ژوبله نه ده د ولسوالی په ودانی باندی تیره شپه د دولت مخالفینو برید کړی و.

د کورنیو چارو د وزارت ویاند محمد یوسف ستانیزی وویل: دغه برید دشپی په دوو بجو ترسره شو چی دپولیسو لخوا ترسخت مقاومت وروسته بیا برید کونکی وتښتیدل.

هغه زیاته کړه پدی پیښه خان دطالبانو ویاند بولی دتیلیفون په لیکه ازادی رادیو ته وویل چې دغه برید دوی ترسره کړی.

ازادی رادیو

دخان په ګډون دپنځو تنو ووژل

د هیواد په شمال دجوزجان ولایت کې یو تن دخان په ګډون دپخلی کورنی پنځه غړی دکلاشینکوف په ګولی ویشتلی او وژلی یی دی.

د جوزجان ولایت دامنیی قوماندان دجنایی چارو امر سمونیار عبدالمتین وویل دپیښی دخیړلو لپاره یې یو پلاوی سیمی ته لیږلی دی.

ده زیاته کړه چی ګمان کیږی دغه تن په روانی ناروغی اخته و او د وژل شو کسانو په ډله کی ماشومان هم شامل دی.

سمونیار عبدالمتین وایی ددغه ډول پیښی لامل دخلکو سره دغیرقانونی وسلو شتون دی.

سرمقاله

ولې زموږ خلک دتخریبی عناصرو په وړاندې یوازې لیدونکی دی؟

په داسې حالاتو او شرایطو کې چې موږ دتپل شوو جګړو دورانیو دجوړولو په لاره کې روان اوله اقتصادی ستونزو سره مخامخ یو اړتیا لرو چې دهیواد د هر اړخیزې جوړوني لپاره راتلونکی کادرونه وروزو او خپل تعلیمی سیستمونه په کمی او کیفی لحاظ پیاوړی کړو.

موږ تر اوسه پورې که چیرې دخپلې تعلیمی لومړنیو او ثانوی مرکزونو اړتیاوو ته وګورو لاهم ۷۰۰۰ ښوونځیو ته اړتیا ده چې داقتصادی ستونزو له امله له جوړولو پاتې دی خو ددې اړتیا سره سره دمعلوم الحاله او ترقی ضد عناصرو له خوا چې نه غواړې هیواد دسوکالی ابادی اونیکمرغی په لور وړاندې لاړ شي دهیواد په بیلابیلو سیمو کې په تیره بیا په سرحدی خواووکې تر اوسه پورې ۹۰ ښوونځي د اور خوراک شول تعلیمی کتابونه او قران شریفونه په کې وسوځیدل ستونزه داده چې زموږ ولسونه دبیلابیلو لاملونو له امله خانونه له دولت څخه لیرې بولی او دتخریبی عناصرو په وړاندې بالکل بی توپیره پاتې شوی دی ددولت دامنیتی خواکونو لپاره هم له ستونزو ډکه ده چې دهیواد په لیرې پرتو سیمو کې دښوونځیو اوعام المنفعه تاسیساتو دساتلو په هکله جدی اقدام وکړای شي.

دخلکو او دولتی مسوولینو او کار کوونکو ترمنځ چې کوم اختلافونه موجود دی او یاد خلکو غوښتنې، سرته نه رسیږي او د قانونیت تطبیق له منځه تللی دی دا ټولی ناخوالی ستونزې او بی قانونی ورو ورو له منځه تللی شي او مسوولین خپلو مسوولیتونو ته متوجې کیدای شي خو تر دې دمخه باید پخپله خلک ددولت او خلکو دمخالفینو اوتخریبی عناصرو دتخریب لاسونه په خپل یووالی سره لنډ کړی او دخانی دفاع د ډلو په جوړولو او دتخریبی عناصرو په مخنیوی کې دکمینونو په نیولو او له امنیتی ځواکونو سره په هر اړخیزه همکاری کې هیواد پاله دنده سرته ورسوی.

که چیرې خلک داوس په خیر دخیر په غونډې کینې ویلای شو چې تخریبی عناصر به دهرې ورځې په تیریدو خپله ویره نوره هم زیاته او سراسری امن به لاړیات خراب شي او په دې توګه به دخلکو غوښتنې له دولت څخه هم سرته ونه شي رسیدای. چې دا کار په خپلو د اولسونو په زیان او دوطن په بیا ورانیدو تمامیږي.

همکاری های منطقوی نسخه یی جدید برای ثبات وامنیت افغانستان ص۲

همکاریهای منطقوی نسخه یی جدید برای ثبات و امنیت افغانستان

عبدالحی ورشان

بیش از چهار سال میگذرد که نیروهای ائتلاف جهانی علیه تروریزم به رهبری ایالات متحده بنام مبارزه علیه تروریزم درافغانستان حضور داشته به همکاری دولت افغانستان وجامعه جهانی درنبرد اند.

این نیروهای ائتلاف درمدت همین چهارسال نه تنها در کار زار خود ، به موفقیت های چشمگیری چون دستگیری اسامه بن لادن وملا عمر دست نیافته اند، بلکه با گذشت هر روز موج خشونت ها درپایتخت وولایات کشور افزایش یافته قربانی میگیرد.

با درک این واقعیت که امنیت وثبات برای توسعه وانکشاف اقتصادی و روابط تجاری افغانستان و کشورهای منطقه لازمی است ، بازیگران قضیه افغانستان، تلاشهایی را شروع کرده اند تا با ایجاد همکاریهای منطقوی بین کشورهای منطقه درافغانستان تامین نماید.

این بازیگران قضیه افغانستان سعی دارند همکاریهای منطقوی را به عنوان نسخه جدید تامین امنیت و ثبات در افغانستان، درصدر برنامه های ستراتیژی منطقوی قرار بدهد. نماینده‌ء خاص کوفی عنان، سرمنشی ملل متحد برای افغانستان که بعد ازسقوط رژیم طالبان ، بیشتر از دیگر بازیگران قضیه افغانستان فعال بود و درسمت دهی جریانها و انکشاف اوضاع سیاسی – نظامی افغانستان ، نقش عمده داشت ، پس از برگزاری انتخابات پارلمانی پروسه بن تقریباً به پایان رسید درجهت تطبیق واجرای نسخه جدید فعالیت های خود را تشدید بخشیده است .

تام کوینگز Tom Koenigs فرستاده خاص سرمنشی ملل متحد برای افغانستان ، اخیراً به رفت وآمد به کشورهای منطقه آغاز نموده برای ایجاد فضای اعتماد بین کشورهای منطقه وتوضیح اهمیت همکاریهای منطقوی، مصروف است .

نماینده خاص سرمنشی ملل متحد به روز پنجشنبه ۲۷ اپریل ، پس از بازگشت ازسفر پاکستان ، طی کنفرانس خبری در کابل چنین گفت:

من ، درسفراخیر به اسلام آباد ، مقامات آنکشور را تشویق کردم که به همکاریهای منطقوی بین پاکستان وافغانستان ادامه بدهند، بخصوص در زمینه تبادله معلومات استخباراتی ازطریق کمیسیون سه جانبه بین ایالات متحده ، پاکستان وافغانستان وسایر میکانیزم ها که وجود دارد .

بقول آقای تام کوینگز، زمینه های زیاد همکاری درقسمت اقتصادی وتجارت وجود دارد که باید بدان توجه شود.

نماینده خاص سرمنشی ملل متحد، معتقد است که اتهام وارد کردن علیه همدیگر درمیان کشورهای همسایه ومنطقه ، به حل مسایل و معضله ها کمک نمیکند بلکه همکاریهای منطقوی است که موثر واقع میشود.

آقای تام کوینگز ، هنگام نگارش این سطور، همراه با پیام دوستی حامد کرزی رئیس جمهور افغانستان به ملت ایران، به تهران سفر نموده، مصروف دیدار با مقامات آنکشور است که بخشی از تلاش ملل متحد درجهت ارتقای همکاریهای منطقوی برای تامین امنیت وثبات درافغانستان محسوب میگردد .

جنرال رحیم وردک ، وزیر دفاع کشور به روز هشتم ثور، حین ایراد بیانیه در مراسم رسم گذشت عسکری به مناسبت تجلیل چهاردهمین سالگرد پیروزی مجاهدین، از دوکتورین جدید دفاعی سخن گفت که با نخسه جدید تامین امنیت و ثبات همخوانی داشت.

آقای وردک علاوه کرد که شالوده‌ء دوکتورین جدید دفاعی افغانستان برهمکاریهای همه جانبه و روابط دوستانه با کشور های همسایه ومنطقه استوار است که سهمگیری فعال درسیستم های امنیتی منطقه وبین المللی لازمه آن است .

افغانستان باید با کشورهای همسایه ومنطقه ،دوستان و متحدین بین المللی خویش ، سعی نماید ازمرحله‌ء کنونی به ظاهر اعتماد سازی و تماسهای تجملی وتشریفاتی دیپلوماتیک ، قدم فراتر نهاده به مرحله یی که نتایج عملی آن، مشهود باشد، گذار نماید.

تمام ابعاد وجناحهای تروریزم درافغانستان نامشروع و غیر قانونی اعلام گردد. جنگ برضد تروریزم وبدست آوردن موفقیت دریـن راه ، فقط درسایه کمک ها وهمکاریهای کشورهای همسایه، منطقه وجهان ممکن است وبس.

همزمان با مطرح شدن طرح همکاریهای منطقوی به عنوان نسخه جدید برای تامین امنیت و ثبات درافغانستان، بحث های داغ درحلقه های روشنفکری وتحصیل کرده ها آغاز شده است وحکومت های منطقه هم به خاطر آماده ساختن افکار عامه برای پذیرش طرح جدید به تدویر کنفرانسها ومباحثات درزسانه ها پرداخته اند کنفرانس اخیر در وزارت امورخارجه کشور درکابل تحت نام نقش کشورهای منطقه دربازسازی ، ثبات وامنیت افغانستان ، که درآن تعدادی از دانشمندان وفرستاده گان کشورهای منطقه اشتراک کرده بودند ، یکی ازهمین تلاشهاست درکنفرانس منعقده شهرکابل، درمورد همکاریهای منطقوی دربخش انرژی ، ترانسپورت، راههای مبارزه با مواد مخدر، تروریزم بین المللی، پدیده جهانی شدن، ثبات وامنیت در افغانستان بحث ها صورت گرفته تبادل نظر به عمل آمد.

په مورنۍ ژبه زده کړه د هر زده کوونکي حق

احمد اریوزی

دا چې د اولادونو له پاره د نفقې برابرول د پلار او مور اساسي دندو څخه ګڼل کیږي په همغه ډول سره خپلو اولادونو ته د زده کړې د ښو شرایطو برابرول د اوسنیو شرایطو لـه مهمو غوښتنو څخه دی.

اوس افغان ولس هم په دې لټه کې دی چې د نړۍ د نورو خلکو په څیر د دیني زده کړې په ارخ کې نوی زده کړې هم تر سره کړي، په هیواد کې اوس په میلیونو زده کوونکي ښوونځیو ته ځي چې هلته څه زده کړي. پلرونه او میندې هم په دې هیلو او امیدونو سره چې په راتلونکي کې به هغوی د پوهې خاوندان و اوسي دوی زیار باسي چې خپلو اولادونو ته د هغوی د زده کړې لـه پاره د ارتیا وړ شیان برابر کړي.

دا چې په خپله په زده کوونکي باندې په ښوونځي کې څه تیریږي دا هم مهمه ده چې پلرونه اومیندې پرې خبر وي دا چې اوسنۍ د زده کړې نصاب نه تولنې ته او نه په خپله زده کوونکي ته په درد خوري او ددینې مضمونو پرته په ټولو مضمونونو کې بې شمیره نیمګړتیاوې لیدل کیږي چې باید د ټولنې او نړیوالو شرایطو له غوښتنو سره سم شي.

بله مهمه ستونزه په مورنۍ ژبه د زده کوونکي لـه پاره د زده کړې د شرایطو برابرول دي په مورنۍ ژبه زده کړه د هر یوه افغان ماشوم حق دی دا حق په اساسي قانون، د ماشومانو په حقوقو او د بشر په حقوقو کې لوړ ځای لري. دولت دا مکلفیت لري د هر افغان زده کوونکي دا حق د هیواد په دننه کې په هر ولایت او سیمه کې چې اوسیږي تامین کړي.

دا چې په مورنۍ ژبه زده کړه د ماشوم حق دی او ماشوم هغه څه چې ښوونکي یې ورته تشریح کوي په ښه ډول سره یاد ته وسپاري او کله چې ښوونکي وغواړي له زده کوونکي څخه وپوښتي زده کوونکي بې له دې څخه چې تر اغیزې لاندې راشي هغه ته د قناعت وړ ځواب ورکړي. له بلې خوا ښوونکي کولای شي زده کوونکي په ښه ډول سره وپوهوي اوس په ډیرو ښوونځیو کې چې د زده کوونکو مورنۍ ژبه یوه او د تدریس ژبه بله وي زده کوونکي او ښوونکي دواړه له ستونزې سره مخامخ وي ښوونکي بشپړ درسي ساعت د لوستونکو سره خواري وباسي خو څه یې چې زړه وي زده کوونکي یې نه شي اخیستلای نو د ښوونکي زړه ماتیږي او کله وار ددې له پاره چې زده کوونکي لوست زده کړي ښوونکي د خشنو لاړو څخه استفاده کوي لکه د لوستونکو وهل. ښکنځل او د نورو په وړاندې تحقیر چې د ښوونکو دا عمل تر ټولو زیات د لوستونکي په روحیه ناوړه اغیزه لري.

له بلې خوا لوستونکي ددې له پاره چې په کور کې د مور او پلار د فشار او د ښوونکي د ډبولو څخه ځان خلاص کړي لوست په میخانیکي ډول سره زده کوي چې نه یې په معنا پوهیږي او نه مفهوم.

چې دا په خپله د زده کوونکي په استعداد ناوړه اغیزه کوي او د بلې خوا زده کوونکی په خپل استعداد بې باوره کوي او دا ډول تلقین کیږي چې ګویا د زده کړې وس نه لري نو په بې دسپلیني پیل کوي چې نه یوازې د کورنۍ له پاره او بلکې د ښوونځي له پاره هم مشکلات پیدا کوي، په نتیجه کې زده کوونکي وایي چې ښوونکي چې څه زده نه دی او ښوونکي وایي چې زده کوونکي ورته غوږ نه نیسي.

خو اصلي ستونزې ته د چا پام نه وي هغه په لومړۍ ګام کې په مورنۍ ژبه زده کړه او دوهم تدریسي نصاب چې دا دواړه ستونزې د ښوونځي په چاپیریال کې نه دي رازیږیدلي بلکې دا ستونزې په خپله د پوهنې وزارت لـوړ پـوړو چارواکو را پیدا کړي دي.

دوی دی ته پام نه کوي چې په ښوونځي کې څو زده کوونکي دي دوی په کومو ژبو خبرې کوي چې په هره دوره کې په خپلو ژبو (پښتو، دري او نورو) کتابونو زده کوونکو ته ولیږلی شي. اوس هغه مهال را رسیدلی دی چې په افغانستان کې قانوني نظام رامنځته شي هر وګړي ته دده قانوني حق ورکړل شي. دا چې د قانون په نظر کې نه نیول او یا تر پښو لاندې کول، جرم دی او دا چې قانون د ډیر یوه تنکي ماشوم په حق کې تر پښو لاندې کیږي او د زده کووکي او ښوونکي لـه پاره ډیر ستونزمن تمامیږي.

لکه چې دا ستونزه د ډیرو کلونو څخه را پدې خوا په هیواد کې په ځانګړي ډول په لویو ښارونو او د هیواد په ډیرو سیمو کې موجوده وه او ده. د ساري په ډول د کابل ښار اوسیدونکي پښتانه دي او د دوی اولادونه د اوسیدونکو غټې غټې برخې پښتانه جوړوي لوستونه په دري ژبه دي لکه په کندز ، بلخ، بغلان، بادغیس، هرات او نور. ځینې کسان دا وایي چې په ښوونځي کې د مختلفو ژبو زده کوونکي لوست وایي ددې ستونزې حل مشکل دی او یا دا سخته ده چې په یوه ټولګي د مختلفو ژبو زده کوونکي ناست وي دوی ته په مورنۍ ژبه لوست ورکړل شي دا خبره به پشپړه توګه سمه نه ده هره ستونزه حل لري او چارواکي ددې لپاره په لوړو څوکیو کې ناست دي چې د ستونزو حل ته لاره ولټوي. نه دا چې د وړوکي او تنکی ماشوم حق کې چې لوی خدای. اساسي قانون او بشري حقوقو ورکړی دی تر پښو لاندې شي. هر ماشوم د قانون په وړاندې برابر دي

د حل یوه لاره داده چې په یوه ښوونځي کې په یوه تعلیمي دوره کې څو زده کوونکي دي ځومره دي ښوونځي کې په پښتو خبري کوي ځومره په دري او یا نورو ژبو. دا موضوع باید مطرح نه وي چې په دې ښوونځي کې پښتو ژبې زده کوونکي ډیر وي او که د بلې ژبې. بلکې دوې ته باید نوی ټولګی تشکیل د هغوی د مورنیو ژبو په بنسټ ټولګي تشکیل او کتابونه ورته وویشل شي دری ژبی دې په دري ژبه او پښتو ژبی دی په پښتو ژبه لوست ووایي ځینې کسان وایي د ښوونکو ستونزه ده. دا هم سمه نه ده په همغه شمیره چې پښتو ژبی زده کوونکي دي په هماغه اندازه ښوونکي هم شته او ددې هم په دې ډول کیدای شي د کابل په ښار کې اویا د هیواد په نورو سیمو کې چې د ژبو ستونزه ده په دې ډول سره حل شي.

خو مورِ ګورو چې په تیره موده او یا اوسنی مهال کې چارواکي په دې فکر کې نه دی چې دا ستونزه حل کړي او نه د ښوونځیو مسوولینو په دې هکله د وزارت سره اړیکي ټینګې کړي دي. د ښوونځیو مدیران او چارواکي دې تکلیف زغملو ته تیار نه دي چې د اړوند ښوونځي ټولګی په ژبني لحاظ تنظیم او ښوونکي ورته برابر کړي.

لکه چې پخوا مو وویل چې اولادونه لکه څنګه چې په مور او پلار د نفقې حق لري په هماغه ډول د زده کړې د ښو شرایطو برابرولو حق هم لري. نو ځکه اړینه ده چې په دې هکله بې تـوپیره ونـه اوسـي اړونـدو ښوونځیـو د پـوهنې وزارت ځانګو ته ورشي او دا ورته په ډاګه کړي چې د مورِ غواړو چې هر افغان ماشوم چې مورنۍ ژبه یې هره یوه وي هغه ته په خپله ژبه د زده کړې حق ورکول شي او بیا چې د کابل په ولایت کې د پښتو ژبې زده کوونکي روا حق دی، ددې حق سلبول نه یوازې جرم دی بلکې ښایي په اخرت کې هم د جزا وړ وي.

په ښوونځي کې په مورنۍ ژبه زده کړې، د ښې زده کړې اصلي لاره ده دا به ډیره ښه وي چې په خپله د پوهنې وزارت چارواکي په دې هکله په سل ګونو زړو تنکیو زده کوونکو باندې زړونه وسوځوي او د بلې خوا هغه دنده چې اساسي قانون ددوې په متو اینبسی ده اجرا، کړي. خو یو تکې د یادولو وړ دې تر هغو چې د ماشومانو مینـدې او پلرونـه په چارواکو باندې فشار رانه وړي تر څو دوی خپلو دندو ته متوجه شي تر هغې به په سل ګونو زره تنکي ماشومان څوریږي. استعدادونه به یې وژل کیږي او ښوونکي به هم د خپلو زده کوونکو سره په جنجال کې وي. اوس هغه مهال رارسیدلی دی چې چارواکي د زده کوونکو د میندو او پلرونو تر فشار لاندې دي ته اړ شي چې په دې لاره کې چتک ګامونه واخلي او د هر ډول پلمو جوړولو څخه ډډه وکړي میندې او پلرونه باید په دې هکله بی توپیرونه اوسي په دې هکله بی توپیري نه یوازې د زده کوونکو د استعدادونو وژنی بلکې د افغاني ټولنې سره خیانت هم دی. څومره به ښه وي چې د کابل په ښار او یا نورو ولایتونو کې پښتو ژبی زده کوونکي په پښتو. دري ژبی زده کوونکي په دری، ازبکی ژبی زده کوونکي په ازبکي. ترکمنی ژبی زده کوونکي په ترکمنی، نورستاني، بلوڅي، پشیي په خپلو مورنیو ژبو زده کړه وکړي دا د ټولنې او اوسنیو شرایطو کلکه غوښتنه ده.

محترم اریوزی صاحب!

ستا لیک مو خپور کړ او څه مو چې لیکلي دي هغه ستا او ځینو کورنیو نظر دی هیله من یو چې د ښوونې او روزنې وزارت ستاسو لیک ته قناعت وښیونکی ځواب وړاندې کړي.

متصدی: ناصر بشر

رانکونکی د ځوانانو ده

د ملي اردو سرتيري له کرايو او رخصت څخه شکايت لري

اردو ديوه هيواد دملا تير جوړوی خو زمونږ دملا دغه تير دتيرو جګړو په بهير کې اورا وروسته وخت کې دمعلوم الحالـه کړيو داهدافو او زمونږ دخپلو افغانانو دبې پروايی له امله زيات زيانمن شوی دی چې اوس يې دبيا رغاونې په حال کې يو تر اوسه پورې زمونږ د ملی پوځ ليکې نه يوازې دا چې د کميت له مخې بشپړې شوی نه دی دجنګی وسايلو او ارتياوو دپوره کولو په برخه کې هم زياتې ستونزې شته او له بلې خوا دښمن هم بيا غواړی چې زمونږ دملی پوځ دغه جوړيدونکی حرکت بيرته له پښو وغورځوی.

خو زمونږ داردو ځوانان دهيواد پالنې په پاک احساس سره دهغوی په وړاندې جنګيږي او ربښتيا يې په دې لاره کې يې دخپل جوړيدو راهيسې زياتې بريادې تراسه کړی دی اود هيواد په وړاندې يې زيات تخريبی اشخاص دقانون پنجو ته سپارلی او ډيرې توطيې يې شنډې کړی دی.

خو بايد ووايو چې زمونږ ځوان سرتيری دملی اردو په دننه کې کومې ستونزې لري چې دملی پوځ لپاره زياتې ستونزې رامنځته کولای شي راځی چې پخپله يې ديو ځوان سرتيرې په خوله واورو:

دګردیز د حمایی کندک دلومړی ټولی سرتیری سکندر داسی وایی:

مونږ سره هم دوطن دساتلو او عسکری مينه وه او هم مو دا ويل چې ښه کار به راته پيدا شي او يو پنځه روپی معاش به هم وی کله چې مونږ په حربی پوهنتون کې وو مونږ ته به يې ويل چې ستاسو به معاش وی په هره مياشت کې به رخصتی ولري دلاړې کرايه به ورکوو اوس چې په وظيفه کې يو هغه خبرې نشته زمونږ درخصت وخت معلوم نه دی څو ميا شتې راباندې تيرې شي دهر چا خپلو بچيانو او کور ته سودا وی. خو چې کله خپل منصبداران مجبور کړو په ډير ويلو تنګ شي رخصت راکړی نه دلاړې کرايه شته او نه دلاړې مسافه راکول کيږي ته وګوره دادی ما ۳۵۰۰ معاش اخيستی له ګردیز څخه دننګرهار تر کامې ولسوالی پورې زما په تګ راتګ کې ۱۰۰۰ افغانی مصرفيږي نو پاتې ۲۵۰۰ افغانی زه په دې ۲۵۰۰ افغانيو څه وکړم زما خپل لګښت خو مې حساب نه کړو که چيرې مې مزدوری کوله هم له دې يې زياتې راکولی زمونږ بله ستونزه او مشکل دادی چې هغه درخصتی خبره ده افسران داسې فکر کوی چې دا عسکر بی کاڼی بی بوټی دی نه کور لري نه ژوند چې هغه خبرې نشته زمونږ درخصت وخت معلوم نه موافقه نه کوی زمونږ قانونی رخصت معلوم نه دی نو اکثره عسکر په خپل سر پټ ځی.

سکندر وايی مونږ له وزارت دفاع څخه دا غواړو چې زمونږ د عسکرو رخصت معلوم کړی چې پيسې کورته يوسی اود لاړې کرايه ورته ورکړی که داسې کار ونه کړی له يوې خوا به يې تربيه کوی او له بلې خوا به تبنتی همدا اوس مې فکر کوو چې زه دا ۲۵۰۰ تنخوا تر کوم سره ورسوم بل کسب او کار کول هم رانه پاتې شو تاسو باور وکړی سايبه چې ډيرو ورته مکتبونه پرېښی دی ځکه چې غربيی ده او يو څو روپی تر لاسه کړی او پيسې په کرايو کې ختمی شي هر يو ته په کور او کلی کې ويل کيږي چې نه يی در کوی مه يې کوی بل کار وکړی خو مونږ وايو چې دوطن خبره ده او اوس مو کمر بند بسته کړی دی پريښودل يې راته سم نه ښکاری خو وزارت دفاع زمونږ غم نه خوری ځکه خو وايی چې په تنګ شي نو په جنګ شي.

فرهاد دريا ماشومانو ته ځانګړی پروګرام وړاندې کړ

دالومړی ځل دی چې د افغان ماشومانو لپاره د فرهاد دريا له خوا يو پروګرام جوړ شو

د فرهاد دريا د کوڅې په نوم په دغه پروګرام کې ۴۰۰ هغو ماشومانو ګډون کړی وو چې د کابل په واټونو کې کار او ګدايي کوي د دوی په ورځني ژوند کې ظاهراً دا يو بدلون دی.

د کوڅې په نوم د تلويزوني پروګرام په پيل کې فرهاد دريا په يوه موټر کې سپور د واټونو دغه ماشومان له خان سره ملګري کړي.

د دغه پروګرام چاپيريال چې د افغانستان د ملي راډيو تلويزيون په تالار کې جوړشوی و ډيره عادي او غير رسمي بڼه درلودله.

دريا وويل «زه د هجران په نوم ۱۱ کلن زوی لرم او کاشکې چې زما هجران ستاسو په شان خوښدې او ورونه درلودلای».

هغه وروسته په هزارګي لهجه يو ه سندره ووېله چې د ده په وينا خپل وړوکي زوی ته يې ويلې.

په دغه تلويزوني پروګرام کې يوه ډول هڅه وشوه د هغو ماشومانو پټ هنرونه را ژوندي او په ډاګه شي چې د واټونو پر سر توکې، اخبارونه او مجلې پلوري او د دوی دا هنر يې تر اغيزې لاندې راوستی.

دريا د پروګرام په بهلا بهلو برخو کې له هغو وړو هلکانو نه چې د نقاشي موسيقي او سندرو هنر ته يې لاس رسی درلود وعوښتل چې د ستېږ يا دريځ پر سر خپلې ننداري وړاندې کړي.

يوه ۱۲ کلن ماشوم چې په يوه بايسکل سازی کې کار کوي له هارمونيې سره داسې سندره ووېله چې د ټولو ماشومانو او فرهاد دريا ژور پام يې ځان ته را واړاوه

دريا د دې ماشوم تر ستاينې وروسته همدغه هارمونيه هم د تحفې په ډول ورکړه.

د دريا دغه پروګرام په نورو برخو کې هم له ګډونوالو ماشومانو سره نوري ننداري تر سره کړې او د ماشومانو ترمنځ په بيلا بيلو سيالیو اوڅو ډله يېزو سندرو سره پسې وغځېده او داسې بريښيده چې ماشومانو تري ډېرخوند اخيستی.

فرهاد دريا په هيواد کې د خپل سفر موخه د دغه هيواد د واټونوپر سر د ماشومانو سره مرسته کول ښولې.

دا وخت په زرګونو واړه ماشومان د کابل په ګډون د هيواد دبهلا بهلو ښارونو دواټونو پر سر يو لړ توکي پلوري ،موټر وينځي او خپرات غواړي.

د ډيرو دغو ماشومانو مېندې او پلرونه په تېرو جګړو کې وژل شوي او دوی يې مجبوره کړي چې خپلې کورنۍ ته ډوډۍ پيدا کړي او نه شي کولای ښونځي ته ولاړ شي

جوانان میگویند:



عزيز الله مسوول ارزيابی افغان کوريا در کشوريکه تقريباً سه دهه جنګ تحميلی بگذرد وهنوز به شکل از اشکال از طرف حلقات معلوم الحاله ادامه داشته باشدسختترين ضربه به جوانان وارد ميشود. در کشور ما هم درين جنګ تحميلی که هنوز هم ادامه دارد هر سال تعداد جوانان ما که کار و مصروفيت ندارند زياد ميشود و بار دوش جامعه ميگردد بعضی جوانان ما نسبت مشکلات اقتصادی نمی تواند به تعليم و تحصيل خويش ادامه بدهند وکدام حرفه را هم ياد گرفته نمی تواند سن و سال مکتب و تعليم دارند مگر به کار شاقه جسمانی مصروف ميباشد که برای فاميل خويش يک لقمه نان بدست بياورد.

جوانانی داريم نسبت نداشتن مکتب از تعليم می مانند اکنون که ۹۰ مکتب از دست عناصر مزدور سوختانده شده جوانان آن بی تعليم ميشود.

ما از مردم کشور و خانواده ها ميخواهيم که در نگهبانی مکاتب منطقه خويش دفاع خودی ايجاد نمايند ونگذارند اشخاصی را که ميخواهد جوانان مارا بی تعليم نمايند و فاميل هاييکه مشکلات اقتصادی دارند اولاد های خود را در حرفه های مختلف مسلکی تربيه نمايند و نگذارند که به خاطر يک لقمه نان از درس و حرفه محروم شوند مگر يک نقطه که قابل يادآوری ميدانم آن اينکه اکثر جوانان ما هم متوجه احساس و مسوولیت خويش نمی گردد ما ميگوئيم که اضافه ۶ ميليون شاگرد به مکتب ميروند و هميش مسوولين ما از سطح کمی يادآوری می نمايند مگر در باره کيفيت خبر ندارند ما بايد زمينه بالای بردن سطح کيفی را فراهم نمائيم که در آينده به درد جامعه و فاميل تمام شود و کادرهای خوبی و مسلکی داشته باشيم.

په کراچیو کې د قران پاک ګرځول ګناه لري او که نه؟

نادر



د هري ټولنې د خلکو او ملولسونو لپاره خپل مقدسات او سپیڅلې او مثبت کلتوري، فرهنګي ارزښتونه د درناوی وړ دی ان چې د همدغو ارزښتونو د ساتلو او درناوی په خاطر فکري تکرونه او اوږدی ترخی او وژونکی جګړې هم د تاریخ په پاڼو کې ثبت شوي دي، نو ځکه ویلای شو چې زمور افغاني او مسلماني ټولنی هم د پیړیو په اوږدو کې خپلو مقدساتو او کلتورې خواوو ته پوره درناوی کړی. افغانان خپل مقدس کتاب قران عظیم الشان او د هغو اوامرو ته خپل درناوی ثابت کړی ان چې نړیوالو ورته ګوته په غاښ کړی ده.

له همدې امله ده چې پخوا به قران شریف په هر کور او جومات کې په پوره درناوی او عزت سره په څو پوښونو کې تاو شوی و او د تلاوت لپاره به یې په ډیر احترام خلاصولو او بیرته به یې ترلو.

خو اوس ګورو چې په ښارونو کې چې څه ان په کابل ښار کې ځینو هیوادوالو بغدادي سپاري، قران سپارې او قران شریفونه په کراچیو کې په ښار کې له پوښونو پرته ګرځول کیږي چې څوک یې شکرانه کړي، دا سمه ده چې زمور ځوانان وزګار دي او دولت ددې څلورو کلونو په موده کې د کار کولو زمینه برابره نه کړه څه وکړي؟

له کومې لارې یوه مړې ډوډۍ تر لاسه کړي د کابل په ده افغانانو کې به کابل ښاریانو لیدلی وي د ښار په نورو خواوو به یې هم لیدلي وي چې زمور مقدس کتاب په کراچیو کې ګرزوي چې هغه وپلوري او بو څه ګټه تر لاسه کړي.

د کابل په ښار کې یوه هلک چې د قران شریفونو ډک لاس ګاډی یې ودرولی راته وایي: ما سره خبری مه کوه عکس می د څه لپاره اخلي غواړي چې په اخبار کې یې چاپ کړی او که غواړی په تلویزیون کې یې خلکو ته وښي. ورته وایم نوم د څه شی دی د ښوونځي شاګرد یې او که نه؟

راته وایي مکتب څه په درد خوري، په مکتب کې نه یم. - دا قران شریفونه وبال نه لري چې په ښار کې یې ګرځوي او خاوری د وړی وربانديې کینې؟

راته وایي: څه وکو مزدوری کې څه شرم دی نور کارونه خو نشته کله چې د نوموړی کراچی عکس اخلم د عکس د اخیستلو اجازه نه ورکوي، خو تیره ورځ مې ولیدل چې په ده افغانانو کې یوه کراچی په سپین سرک ولاړه وه او خدای خبر چې خاوند چې به یې تللی و یوازې عکس تری راخلم خو چې وراندې مې وکتل د سړو زرو دکانونه مې تر سترګو شول چې د طلا قیمتي ګاڼې په ښکلو او لوکسو دکانونو کې اینبودل شوی دی دا چې سره زر قیمتي څیز دی په ښکلو الماریو کې اینبودل شوی او هر سهار وربانديې پاکه ترته وهل کیږي چې بدرنګه ښکاره نه شي خو زمور مقدس کتاب چې نه پوره کیدونکی قیمت او ارزښت لري د ښار په ګردونو، د خلکو تر منځ تر خلکو لاندې په کراچیو کې وړل راوړل کیږي د صرافی تر څنګ دکانونه چې په سرو زرو سنبال دي په لیدو سره د انسان زړه ته خوشالی ورځې خو ډیره دا افسوس خبره ده چې تر اوسه کومې مسوولی اداري د داسې پلورونکو مخه ونه نیوله.

دا منو چې زمور ځوانان وزګار دي او باید چې د کار کولو له لارې خپل کور او ټولنې ته یو مړی ډوډۍ پیدا کړي خو باید د ډوډۍ د پیدا کولو داسې لارې چارې ولټول شي چې هغه مثبت او د اولس عکس العملونه راپورته نه کړي. محمد اکبر چې خپل ځان ملا را پیژنی وایي قران زمور مقدس کتاب دی باید احترام او درناوی یې وشي او داسې کسان باید د دینې کتابونو د پلورلو کار وکړي چې یو دکان چیرې ورته ونیسي او په ښه عزت سره یې وپلوري بده داده چې دلته نه حکومت د دې مخه نیسي او نه زمور خلک خپلو اولادونو ته پدې هکله رهنمایي کولای شي لازمه ده چې زمور داسې ځوانان په ښارونو کې د قران له پلورلو او په کراچیو کې له ګرزولو څخه منع کړي څو له یوې خوا زمور د مقدس کتاب درناوی وي له بلې خوا زمور ځوانان د خپل مقدس کتاب د پلورلو لپاره یو مناسب ځای یعنی دکان جوړ کړي.

محمد امین چې په کابل ښار کې ګرځنده پلورونکی دی وایي: مور خو لا خوشاله یو چې دکان ولرو خو خبره داده چې کرایي یې اوچتی دی زمور وسه ورته نه کیږي مجبور یو په ښار کې یې وګرځوو او تر اوسه خو مور چا ورڅخه منع کړي هم نه یو که یې منع کړو بیا یې په ښار کې نه ګرځوو خو چې دولت کرایې کنترول کړی، هغه کنترول کولای نشي او مور وسه نه لرو چې دکان ونیسو دا کار مو له مجبوریت څخه پیل کړی دی.

نامه وارده

به اداره محترم روزنامه اراده!

بجواب نامه وارده ۴ ثور ۱۳۸۵ اهالی محترم کارته ماموورین احتراماً می نگاریم:

ازآنجائیکه نامه اهالی محترم کارته ماموورین مطالعه گردیدازمحتوای آن چنان برمیآید که درساحه کارته مامورین به ارتباط پاکی وصفایی، جمع آوری وانتقال کثافات بدور از ساحه کار واجراآت صورت نگرفته بالمقابل اینجانب منحیث مسوول ریاست ناحیه سوم شاروالی کابل قابل ذکر میدانم: ازآغاز سال ۱۳۸۴ با مدغم گردیدن ساحه کارته ماموورین به ناحیه سوم درمجموع کثافات چندین ساله از ساحات مختلف کارته ماموورین توسط وسایط ناچیز که بدسترس داریم انتقال داده شده بدون وقفه همه روزه تعداد از پرسونل تنظیفی درآن ساحه مصروف کار وکثافات جمع آوری شده انتقال میگردد. برعلاوه دریکماه دو مراتبه مطابق پلان درسطح ناحیه سوم حشرعمومی راه اندازی که کارگران تنظیف درجمع آوری وانتقال کثافات خدماتی را انجام میدهند، آرزومندیم اهالی محترم ناحیه سوم به شمول کارته ماموورین مصداق قول ما میباشد.

درمورد کشتارگاه درساحه متذکره اقدام عملی صورت گرفته ساحه پاک کاری از منع کشتار حیوانات درساحه مورد نظراقدام عملی صورت گرفته از نزد اشخاصی که حیوانات را درآنجا ذبح می نمودند تعهد اخذ گردیده تا درآینده درمنطقه متذکره دست به چنین عمل نزنند.

شهرداری با همشهریان محترم یک ارتباط بالخصوص دارد زیرا شهر خانه مشترک همه ما است که می باید درامور مربوط مردم همکار شاروالی باشند. پرابلم های ساحوی را بموقع با شاروالی ونواحی درمیان بگذارند تا در همکاری با هم راه حل های درمورد جستجو گردد. شاروالی کابل با حداکثر درحدود کمتر از دو هزار نفر عمله تنظیف ودر حدود ۷۰ عراده وسایط کثافات بر دراختیار دارد که کثرت نفوس بیش از حد درقسمت تنظیف مشکلات مزید را ایجاد کرده ایجاب مینماید تا هر فرد به اندازه توان درپاکی وصفایی شهر خویش درجوار شاروالی سهم بارز بگیرد امیدواریم تامشکلات ما را که تحریر داشته ایم مردم درنظر بگیرند.

توقعات زیاد است ولی شاروالی کابل نیز تا سرحد توان درعرصه خدمات شهری شب و روز بلکه بروزهای تعطیل نیز بی کار ننشسته با راه اندازی حشرعمومی درنقاط مختلف شهر کابل کار تنظیفاتی را انجام میدهد امیدواریم تا غرض مطالعه همشهریان تحریر ما بدست نشر سپرده شود موفق باشید.

غلام حسین بیات
رئیس ناحیه سوم

یک پولیس زخم...

به گفته پولیس ولایت کندهار درین درگیری مخالفان به مقاومت شدید پولیس روبروشدند وفرار نمودند.

شب گذشته در منطقه داغ پل وکوهکران ولایت قندهار بالای پوسته امنیتی مخالفین دولت حمله نموده که بعد از زدوخورد افراد مسلح از محل فرار نموده. قابل یادآوریست که به گفته شاهدان عینی بعد از درگیری در منطقه بعضی از اجناس ونشانی های مجروحین مخالفین دولت دیده میشدند. علوم الله محمد ابراهیم یک تن فرماندهان گروه ضالین خبر زخمی شدن افراد خودرا رد نموده وبه گفته وی به نیروهای دولتی آسیب زیاد رسیده اند.

یک هلی کوپتر...

ملیت کشته شدگان اعلام نشده است. این هلی کوپتر نظامی آمریکا هنگام انجام عملیات در ولایت کنر در شرق افغانستان و در نزدیک مرز پاکستان سقوط کرد. یکی از سخنگویان نظامی آمریکا گفت هلی کوپتر شینوک روز جمعه در یک منطقه کوهستانی در نزدیکی اسعدآباد واقع در ولایت شرقی کنر سقوط کرد. طالبان گفته اند این هلی کوپتر را سرنگون کرده اند اما یکی از سخنگویان اردوی آمریکا گفته است علت سقوط هلی کوپتر، آتش دشمن نبوده است. حدود یک سال پیش نیز یک هلی کوپتر شینوک در ولایت کنر سقوط کرد و تمامی شانزده سرنشین آمریکایی آن کشته شدند. همچنین در اواخر ماه سپتامبر یک فروند هلی کوپتر شینوک آمریکا در جریان یک عملیات نظامی در ولایت زابل سقوط کرد و تمامی پنج سرنشین آن کشته شدند. در دسامبر گذشته نیز مقامات نظامی آمریکا گفتند که دو هلی کوپتر شینوک این کشور در افغانستان پس از آنکه مورد حمله قرار گرفتند، مجبور به فرود اضطراری شدند

په یوه کمین کې ....

دغوبی په ۱۶ پڑوک خبری ازانس ته دتیلیفون په لیکه داخبره وکړه، دنوموړی د وینا له مخې خواکونه یې دغه کمین خکه ټولی و چې په یاد شوی سیمه کی به طالب جنګیالیو تل په دولتی او ټاټوبی موټرو او خلکو باندی بریدونه کول هغه وویل په جګړه کی دولتی خواکونه ټه مرګ ژوبله نه ده اوښتی. د زابل ولایت دشهرصفا ولسوالی مربوطتو کی په دغه لویه لاره کی دغوبی په اتمه یو هندی انجینر دطالبانو لخوا وتښتول شو او بیا وروسته ووژل شو. طالب سرچینو تردی دمه دپیښی په اړه خرګندونی نه دی کړی.

رادیو ازادی

ERADA Daily

Daily Indepehdent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Suhrab Didar Mobil Phone: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
Composed & designed by : sidiq ullah (sadiq) & Ahmad shah (wahdat)
eradadaily@hotmail.com

اراده در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (ایستگاه سینمای بهارستان سرک مسجد حاجی میر احمد خانه نمبر۹۵)
تیلفون موبایل : ۰۷۰۲۲۲۷۲۶

اراده
زیرنظرهیات تحریرانتشار میباشد
موسس وصاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: سهراب دیدار

روزنامه آزاد وملی نشریه مرکزنشراتی افغان
اندیشه وعقاید مطرح شده ازسوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و دیزاین: صدیق الله "صادق" و احمد مسعود "ستانکزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قیمت یک شماره ۳ افغانی